# مور وویل: ته زموږ بادار یې، هغه وفرمایل: «الله جل جلاله بادار دی»، مور وویل: په موږ کې د فضیلت له اړخه تر ټولو غوره او د نفوذ له اړخه تر ټولو پیاوړی یې، هغه وفرمایل: «السَّيدُ اللهُ»، قُلنا: وَأَفْضَلُنا فَضْلاً، وأعظَمُنا طَوْلاً، فقال: «قُولُوا بِقَولِكُم، أَو بَعضِ قولِكُم، وَلَا يَسْتَجْرِيَنَّكُم الشَّيطَانُ» «څه چې وایئ ووایئ، یا ځینې داسې ویناوې وکړئ، خو شیطان دې تاسې له حد څخه په اوړېدلو دوکه نه کړي

له عبدالله بن الشخير رضي الله عنه څخه روایت دی وایې چې : زه د بنو عامر له پلاوي سره د رسول الله صلی الله علیه وسلم په لور روان شوم، موږ وویل: ته زموږ بادار یې، هغه وفرمایل: «الله جل جلاله بادار دی»، موږ وویل: په موږ کې د فضیلت له اړخه تر ټولو غوره او د نفوذ له اړخه تر ټولو پیاوړی یې، هغه وفرمایل: «السَّيدُ اللهُ»، قُلنا: وَأَفْضَلُنا فَضْلاً، وأعظَمُنا طَوْلاً، فقال: «قُولُوا بِقَولِكُم، أَو بَعضِ قولِكُم، وَلَا يَسْتَجْرِيَنَّكُم الشَّيطَانُ» «څه چې وایئ ووایئ، یا ځینې داسې ویناوې وکړئ، خو شیطان دې تاسې له حد څخه په اوړېدلو دوکه نه کړي».

[صحيح]

رسول الله صلی الله علیه وسلم ته یوه ډله راغله، کله چې ور ورسېدل - نو د هغه ستاینه یې په - ځینو داسې الفاظو وکړه چې رسول الله صلی الله علیه وسلم بد وګڼل، هغوی وویل: "ته زموږ بادار یې"، نو رسول الله صلی الله علیه وسلم ورته وویل: " الله جل جلاله بادار دی" هغه په خپل مخلوق باندې بشپړ حاکمیت لري او دوی یې بندګان دي. هغوی وویل: "ته د فضیلت له اړخه په موږ کې غوره یې" او په رتبه، عزت او امتیاز کې تر ټولو لوړ یې. او ته " د نفوذ له اړخه په موږ کې ترټولو لوی یې" او ترټولو سخاوتمند، لوړ، او په مرتبه کې تر ټولو پورته یې. بیا ورته رسول الله صلی الله علیه وسلم لارښوونه وکړه چې هغه څه دې ووایی چې دوی یې معمولا وایی او په الفاظو کې دې له حد څخه نه اوړي او تکلف دې نه کوي، او شیطان دې دوی له حد څخه په اوړېدلو سره دوکه نه کړي، کوم چې انسان په حرامو کې ښکېلوي لکه: شرک او د شرک حرام شوي سببونه دي.



النجاة الخيرية
ALNAJAT CHARITY
لجنة الدعوة الإلكترونية
EDC E-Da'wah Committee